مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: اقبال انصاري
ژباړونکی: دوکتورعبدالخالق رشید

۲۰۲۲/۰۸/۱۸

# وروستنی پټآن

## د جهانسي جنګیالی ملکه او ورسره مل پښتانه جنګیالي

(تاریخي ناول)

نهمه برخه



لیکوال:
اقبال انصاري
ژباړونکی:
دوکتورعبدالخالق رشید
نوی ډیلی : ۲۰۰۲ کال
ډالی
دهغوپښتنواومسلمانواتلانوپه نامه چي دهند دآزادی پرلامل یی په ۱۸۵۷ کی لویي کارنامي دهندوستان تاریخ ته پرېښودي چي اوس یي یاد یوازي په کیسواوحماسوکي ژوندکوي!
پروفیسور رشید



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

# (۱۲)

دکیتان ډنلپ اولفټننت موریس ویلیم دوژلوخبراسکین اوګارډن ته رسیدلی واودواړو خپل غاښونه سره کرچولي وو، دواړو داسره غوټه کړې وه چې دجهانسي ناربنه،ښځې اوماشومان به یویوترتیغ تیروي .خودم ګړی یې سترګو داښوده چې ګواکي اوس په جهانسي کې ددې خبرو وخت لانه دی.
انګریزي ماشومان اومیرمنې اوس په کلاکې درانۍ په منګولو ترساتنې لاندې وو، دوی ته داخبرهم رارسیدلی وچې انګریزي ماشومان اومیرمنې اوس په کلاکې دننه پوره خوندي وو،رانۍ هغه ځای ته چې هلته انګریزي میرمنې اوماشومان ساتل کیدل خپلونارینه چوپړیانواونوکرانوته د ورتلو اجازه نه ورکوله، دوی ته داپته هم وه چې رانۍ ددغه کارله پاره کنورګل محمد ټاکلی اودهغوی دخوندي ساتنې دنده یې هغه ته سپارلي وه ځوچې ټولوپناه اخیستونکوته هرډول اسانتیاوي لکه په خپل وخت ډوډی اونورې برابرې کړي، اوهم هغوی باید له هرډول زیان رسولوڅخه په امن اوخوندي وي.
اسکین اوګارډن دواړو ته اوس داهم معلومه شوې وه چې په جهانسي کوم انګریزي ماشومان اومیرمنې پاتې دي ،له هغوی ټولوسره اوس دجهانسي داوسیدونکو پوره خواخوږي اوترحم مل دی. هغو دواړو انګریزي افسرانو ته داهم څرګنده وه چې که په دغه حال کې دوی کوم داسې ناوړه ګام دجهانسي والاپه وړاندې پورته کوي ، نو په دې کې شك نشته چې ددوی ددغې وړې تیروتنې اونه سنجول شوي ګام پورته کیدو په ترڅ کې به په جهانسي کې دیره ټول انګریزان یوهم دژوند څکه ونه کړي.
خلك یوڅه ته غوږ په آواز وو،که چیرې خلك په پاریدنو باندې لاس پوري کړي داخوڅرګنده وه چې هغوماشومانواومیرمنو ته چې تراوسه هم درانۍ سره ووخطراو زیان رسیدل خامخا وو. په دې چې دهغوی ترقابولاندې راوستل هم درانۍ له واکه دباندې وو ځکه نوکله چې اسکین اوګارډن د ډنلپ اوموریس ویلیم دوژلو واوریدل دوی هم ځانونه آرام ونیول.
اسکین د ګارډن په اوږه لاس وټپاوه اودتسل په ژبه یې ورته وویل:
ـ ګارډنه ، فکرمه کوه ، وار راځي ، زموږهم راځي ، ډیرزر به راشي...
اسکین داخبره یوازې دګارډن دتسل په خاطرنه کوله بلکې دخپل تسل په خاطریې هم کوله.
دریمه ورځ کمیشنراسکین ته خبررا ورسید چې رساله دارکالي خان له خپلوملګروسره دډیلي پرلورخوځیدلی دی .دا مهم اودآرامۍ وړ خبرو، دخوښې خبرو، داخبردهرانګریز له پاره یوزیری په دې وچې ددغه خبر په اوریدوسره ټولوانګریزانودآرامۍ ساواخیسته،ټول انګریزي ماشومان اومیرمنې بیرته خپلوکورونوته راغلل ،په خپلو کوروکې یې په وتوننوتوباندې پیل وکړخوله له احتیاط سره.
یوه ورځ سهاراسکین ته خبرراورسید چې دجیل په مخکې له لارویو انګریزانو څخه یوڅوک چاپه ګولۍ ویشتلی اووژلی یې دی ، ویل کیږي چې ګولۍ هم له جیل څخه را چلیدلي ده.
داسکین دصبرکاسه ډکه شوه،هغه ګارډن خپل کورته راوباله اوهغه ته یې وویل چې یوڅه خوباید وکړو...
ډپټي کمیشنردخپل امرخبره ومنله او ویې ویل:
ـ هو، صاحب،زموږ له پټې خولې څخه دغو هندوستاني سپیوزموږ دصبرکاسې را ډکې کړې...
دواړو ځانونه جیل ته ورسول.
پیره دارانوهم دهغوی ښه سم هرکلي وکړ، دروازه یې ورته پرانیسته اوورته داخوا اخواشول.
دواړه ورننوتل، پرته له دې چې دسپاهیانوسلامیواودرناویو ته ځواب ووایي،په مړوڅټواوسروسترګودانګړمنځ ته ورسیدل، دجیل دپراخ انګړ په زړه کې ټول بندیان په کتاروکې ناست وو،بخشش علي بندوان یوې خواته ولاړ و،دجیل له مرستیال ټاکررام کهلاون سینګ سره یې خبرې کولې
اودوی ټولو دیوه برهمن ست نارائن کیسه اوریده .اسکین اوګارډن هلته ورغلل،برهمن چوپه خوله شو، ټولو بندیانو دغودواړو انګریزانوته کتل.
ـ بخشش علي بندیوانه !یوچا له جیله پرپیتروا‍ټکسن ګولی چلولي، هغه بې وژلی، دا وڅوك ؟
بخشش علي په خورا ډاډ سره ورته وویل:
زه ، ما پیتروا‍ټکسن وواژه، افسوس چې دهغه ټبلربچ شواووتښتید...
اسکین اوګارډن دواړه حق حیران ودریدل، هغوی ته دیوه هندوستاني له خوا داسې ځواب اودهغه له خوا داسې بې پروایي په پوره توګه دنه منلوچلن و.
دبخشش علي دغې ژبې اودهغه دغې لاپروایي ددواړوانګریزانو په غوږ وکې انګازې اوچتې کړې، دواړو دپوره خطراحساس وکړ... خوبیاهم پرناوخته شوی و،مخکې تردې چې هغوی دواړه له خپلو ملاوو څخه خپلې تومانچې را وباسې تردوی دمخه بخشش علي خپله تومانچه په ماشه کړی اوپردوی را برزوهل:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- لاسونه پورته کړئ ،
هغوی دواړه په خوراسړي لهجې سره وویل:
- ته پوهیږې چې موږ څوك یو؟
اسکین لاهم زور واهه اونه غوښتل چې ځان کمزوری وښیي.
خومخکې تردې چې دی اسکین ته ځواب ووایي دهغه مرستیال ټاکر رام کهلاون سینګ ورته رامخته شو،داسکین له خولې سره یې یوه درنه څپیره ملګرې کړه اوورته ویې ویل:
- سپینه یږه،دا دجهانسي جیل دی،دلته یوازې دبندیوان بخشش علي امرچلیږي،دهغه له ویلوپرته نورڅه نه ویل کیږي اونه باید وویل شي.
د دنګ اواوچت پهلوان ډوله ټاکررام کهلاون څپیره دومره پیاوړې او درنه وه چې پرهغې له لویدو اوبیرته راپورته کیدو وروسته اسکین ته دا څرګنده شوه چې یوه ډوډی خوپټیږې کیږي ، معنا داچې له هغې وروسته یې سد سرته راغی اوپه دې پوه شو چې ډیټې بندیوان ده ته دا څپیره ورحواله کړې وه ، دهغه زامه سره کړچیدله اودسرپه واسطې یې دخپلو ګواښونوڅرګندونه کوله.
په هرډول دهغو دواړوانګریزانوځیرې ګردسره سپیني اوښتې وې ، خو اسکین زیات ډارشوی و.
ټاکررام کهلاون سینګ رامخته شو، ددواړو انګریزانو له ملاووځخه یې تومانچې راوایستې اوپه خپل قابوکې یې ونیولې اوبخشش علي ته یې وویل:
- شیخ صاحب تاسې ته موهغه خپله بې عزتي درياد ده چې دغو سپینو یږرو له تاسره وکړه؟
بخشش علي په خورا سړې ژبې سره وویل:
-هو رایاده ده،خپله تومانچه یې په خپل کمربند کې وتومبله ، را وړاندې شواوهغه دواړه انګریزان یې ترخپلو لغتولاندې واچول څه ناڅه ترلسودقیقوپورې هغوی« نو.. پلیز ... نو، دخدای له پاره ...» کوکې اوچغې وهلې ،خو چې دواړه له اخ وتوخه ولویدل ،اوبې سده شول،بیایې خپله تومانچه له خپلې ملا را وایسته ، دواړه یې سره یو یوکړل اوپه دواړویې خپلې ګولی وچلولې لومړی په اسکین او دویم پرګارډن! ...

(۱۳)

انګریزي جاسوسانو دجهانسي خبرونه ټول ټکي په ټکي دوی ته رسول،چې ګواکې په جهانسي کې څه تیریږي،خلك څه وایي اوڅه سوچ کوي . په کلا کې څه روان دي، راتې پرڅه اخته ده اوڅه کوي ، د رانۍ نژدې کسان اویاران څه کوي ... دا ټولې خبرې انګریزانو ته رسیدې اودانګریزانو دغه جاسوسان کوم پردې څوك نه وو.بلکه دا ټول زموږخپل خلك وو، زموږ هندوستاني وو،دجهانسي اوسیدونکې وو،دغوکسانو په داسې ځیرکی سره کارکاوه اوپه داسې هوښیاری سره یې داخبرې ترانګریزانو پورې رسولې چې دهیچا هم پرهغو باندې شك هم نه راته اونه ددوی له دغه کړوڅخه یوغوږ تربله هم خبریدل ، دقام اوملك دغوغدارانو دغه ټولې پټې خبرې ترانګریزانو پورې رسولې اودخپل ملك جرړې یې په خپلولاسو پرې کولې.
داسکین اوګارډن دمړینې خبرهم دریمه ورځ ترجنرال روز پورې ورسید،چا ته چې له جهانسي څخه پنځوس میله لرې یې په کنایي نومې کلي کې کمپ وهلی واودخپلې واړې په انتظارناست و چې څوحالات سمیږي اودی پرجهانسي باندې خپل پوځ وروخیږوي.
جنرال روز پردې پوهیده چې داسکین اوګارډن دمړینې په کارکې درانۍ لاس واورانۍ اوس دخپل پوځ په بندوبست هم لاس پورې کړی اودهغه دجوړولواجازه یې هم ورکړې ده ،هغه ته درساله دارکالې خان له خوادډنلپ دوژنې خبرهم رسیدلی و، اوپردې هم خبرو چې رانۍ بیا ټول انګریزي ماشومان اومیرمنې کلا ته وروبلل اوترخپلې ساتنې لاندې یې ونیول، دغه ټنی خبرې هم دریمه ورځ جنرال روز ته وررسیدلې وې ، خوداچې کومه اندازه پوځ پرهغه مهال له ده سره و، هغه ټول یوازې دانګریزي سپرو یوه وړه برخه وه،ځکه خواوس دنورو انګریزي پوځیانوراتګ اودهغو کاروایي په خپل وار ناشونې وه.په هرخوا کې بغاوتونه روان وو، ددوی پوځیان هم یوازې دخپل ځان اوخپلوځواکونودساتنې له پاره هغې اودغې خواته په منډو او ترړو وو. پرهغه مهال که جنرال روزهم له یوشمیرپوځیانو سره پرجهانسي برغل راکړی وای نو له درنې ماتې پرته به یې بل څه نه وو ترلاسه کړي . بله داچې که ده داکارکړی وای په دغه حال کې به دده دغه چال چلن په کلاکې دانګریزي ماشومان اومیرمنوبرخلیك هم ورسورمرچکی کړی وای .هغه پردې پوهیده چې که دی پرجهانسي باندې برغل وکړي،دجهانسي خلك اوپاریدلي ځواکونه به ترهرڅه دمخه دغه ماشومان اومیرمنې له منځه یوسې.
داچې حنرال روز څه کول غوښتل اویا داچې څه یې په زړه کې وو، دهغوله پاره اوس دی ناتوانه و. هغه ته دکالې خان خبرچې ډیلې ته ولاړهم وررسیدلی و،هغه پردې هم خبروچې انګریزي ماشومان اومیرمنې له کلا څخه بیرته خپلوکورونو ته تللې دي ،خوددې په څنګ کې چې کله داخبرهم ور رسیدلې وچې اسکین اوګارډن یې دواړه وژلي دي نوبیایې خپل سرکلك په خپلو لاسو کې نیولی و.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولـئ

دهغودواړو انګریزانو په وژني سره که له یوې خوا انګریزي کمپنۍ ته زیان رسیدلی ونوله بلې خوا په خپله حنرال روزته هم لوی زیان ور رسید ، په دې چې اسکین دده داسې دوست وچې دی اوهغه دواړه په یوه وخت کې دختیزهند دکمپنۍ له خوا پردندې ګمارل شوي وو او په یوه وخت کې هند ته راوستل شوي وو،هغوې دواړو په یوه وخت کې په کلکته کې زده کړه لیدلي وه، اودواړه په یوه وخت کې دخپلو وړتیاوو له مخې پراوسنیودندو باندې ګمارل شوي وو، دواړه په یوه وخت کې پوځې افسران ټاکل شوي وو. له ګارډن سره خو یې څه خپلوي هم درلوده .همداوه چې داسکین اوګارډن دمړینې په اوریدو سره جنرال روز خورا زیات ځوریدلی و،دهغه په رګوکې دغچ اخستنې اورخپلې لمبې په خورا زورسره بلولې .هغه به دې ته راوهڅید چې له خپلو څوسوو سپرو سره پرجهانسي باندې ورمنډې کړي،خوبیرته به یې ځپل ځان کنترول کړ،په دې چې هغه پوهیده چې په احساساتو باندې له زیانه پرته بله کومه ګټه په دغوشیبوکې نه شي ترلاسه کیدای ،بلکه په دغه کارسره به خپل قام ته زیان هم لاورزیات کړي .هغه پردې پوهیده چې که په دغه حال کې پرجهانسي یرغل وکړي، په دغه ترڅ کې به دده له پاره دبري هیڅ زیری هم نه وي ... ماته ... هغه څه چې هغه دده له پاره لوی شرم ګڼل کیده. په دې چې دهغه په وړاندې دانګریزانوترحکومت په خپله دانګریزانو وقارخورامهم و. هغه پردې پوهیده چې که پریوه سیمه باندې دانګریزانو واکمنې نه وي

هغه ددوی له پاره کوم کمی اوکوم شرم نه دی،بلکي کمې اوشرم یوازې په ماته کې دی ،جنرال روز ماته نه غوښته،هغه په دې سوچ کې وچې کله برې په سلوکې سل وي ، په هغه حال کې ده پرجهانسي باندې دیرغل تابیا ته زړه ښه کاوه .هغه ته دا خبرونه هم په خپل وار سره را رسیدل چې جهانسې له انګریزانو څخه داوسپنې په ترلاسه کولو سره دځان له پاره دژغورنې پولادي ډالونه جوړوي.

اوجهانسي دهرې ورځې په تیریدو سره پیاوړې کیده، دغه حالات ښه حالات نه وو، په دې چې دحنرال روزاندیښنه یې ورځ په ورځ زیاتوله،ځکه هغه دافکرکاوه چې که جهانسي پیاوړې شي،نوبیا به پرهغې باندې برې اودهغې غلام کول خورا ګرانه خبره وي ،ځکه نوهغه دجهانسي دکمزورتیا هیله کوله.

اوهمداوه چې ده ته به دیوان.نتې خان وریادیده.

پاتې لري



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ